WWW.CSRSKABUL.COM

## مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
## د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څیړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره:** ۶۳ (از ۱۷ الی ۲۴ حوت ۱۳۹۲ هـ ش)

این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.

---

## په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:


### ۱ – د راروانو ټاکنو څرنګوالی او د افغانستان پر سوله او ثبات یې اغېز


- مقدمه .................................................................................. ۳
- د ټاکنو څرنګوالی................................................................... ۳
- د راتلونکي ولسمشر مشروعیت.................................................... ۴
- د ټاکنو دویم پړاو ته تګ او د لاسوهنو شونتیا........................................ ۴
- د افغانستان پر سوله او ثبات د دغو ټاکنو اغېز........................................ ۵

## ۲ – آیا امریکایان خپل پوځي مرکزونه هم په تېروتنه کې بمباروي؟


- مقدمه ........................................................................................ ٦
- تېروتنه که قصدي عمل........................................................................ ٦
- د بهرنیانو له سپکاوي ډک چلند.............................................................. ۷
- د مزدورو رسنیو دوه ګونی چلند............................................................. ۷
- امنیتي که د ناامنۍ ترون..................................................................... ۸

## د راروانو ټاکنو څرنګوالی او د افغانستان پر سوله او ثبات يې اغېز




**مقدمه**

ټاکل شوې چې څو ورځې وروسته د نوي لمريز کال (۱۳۹۳) د وري په ۱۶مه نېټه د افغانستان د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو دريم دور ټاکنې ترسره شي.

په دغو ټاکنو کې د لاسوهنو او د هېواد په ډېرې سيمو کې د امنيت د خرابوالي له امله، د ټاکنو د امنيت په اړه هم پراخې اندېښنې شته دي. وسله والو طالبانو په خپله وروستۍ ويناپاڼه کې د دغو ټاکنو د ګډوډولو ګواښ کړی او د ټاکنو د کارکوونکو او ګډون کوونکو د په ښه کولو خبرداری يې ورکړی دی.

امريکايي چارواکي هم له دغو ټاکنو وروسته د افغانستان د وضعيت د خرابوالي په اړه څرګندونې کوي. د امريکا لوی درستيز جنرال مارتين ډيمپسي څو ورځې مخکې کابل ته له سفر وروسته، په واشنګټن کې وويل چې افغانستان به له ټاکنو وروسته د ډېرو منفي تحولاتو او بې ثباتۍ شاهد وي.

دغه ټاکنې به څه ډول ترسره شي؟ په هېواد کې به د دغو ټاکنو له ترسره کېدلو وروسته وضعيت کومې خوا ته ولاړ شي؟ ايا دا ټاکنې به د افغانستان د اوسني کړکېچ د پای ته رسولو لپاره ګټورې وي او که به روانې ناخوالې لازياتې کړي؟

**د ټاکنو څرنګوالی**

د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو د مرکز رئيس دوکتور عبدالباقي امين د مرکز د نشراتو څانګې د پوښتنو په ځواب کې د راروانو ټاکنو د څرنګوالي او پايلو موضوع څېړلې او وايي، چې د ټاکنو پر وړاندې تر ټولو ستر خنډ د امنيت نشتوالی دی، چې له امله يې په اوسني وخت کې او اوسنيو امنيتي شرايطو ته په پام سره، ټاکنې عملي نه دي.

ښاغلي امين وايي: «دا مهال افغان حکومت د هېواد په ډېرې سيمو واک نه لري او د کورنيو چارو وزارت ژمنه، چې د رايې اچونې د مرکزونو د امنيت ټينګولو په اړه يې کړې ده، عام فريبانه ده؛ د بېلګې په توګه په وردګو ولايت کې د رايې اچونې ټول مرکزونه پرانېستي ښودل شوي دي؛ خو په حقيقت کې د دغه ولايت په شپږو ولسواليو کې ناشونې ده، چې څوک د رايې اچونې مرکزونو ته ورشي او همدا وضعيت د افغانستان په ختيزو، سوېلي او سوېل لوېديزو سيمو کې هم دی؛ اوس خبره دا ده چې آيا د رايو صندوقونه به پر څه باندې ډکېږي»

نوموړي زیاتوي: «حکومت که د ټاکنیزو مرکزونو امنیت هم ونیسي او د رایو د صندوقونو د له منځه تللو مخنیوی وکړي؛ خو د رایه ورکوونکو امنیت به چې دغو مرکزونو ته راځي او بېرته ځي، څوک ونیسي؟ د حکومتي چارواکو څرګندونې په دې اړه رښتینې نه دي، چې ګواکې د ټاکنو پر وړاندې هېڅ امنیتي ستونزه نشته ده؛ په سیمه کې حقیقت د دوی د څرګندونو خلاف دی.»

د چارو څارونکی ذاکر جلالي هم په دې اړه وایي، چې په دېموکراتیکو هېوادونو کې د ټاکنو اړتیا دا ده، چې هېواد د یوه مشروع او د خلکو د خوښې نظام څښتن شي او واک په سوله‌ییز ډول له یوه ګوند یا شخص څخه بل ته ولېږدول شي. د ټاکنو تر ټولو لومړنی اړتیا دا ده، چې د هېواد ډېری واجد شرایط وګړي پکې برخه واخلي او د دوی رایې په رښتیني ډول راتلونکي ولسمشر وټاکي، یعنې شفافیت یې مهمه ځانګړنه ده.

نوموړی زیاتوي: «په افغانستان کې خو لومړی امنیت نشته، چې د هېواد ډېری واجد شرایط خلک په ټاکنو کې ګډون وکړي. دویم دا چې، ولس پر واکمن نظام او دلته د ډېرو بهرنیو هېوادونو د ځواکونو د شتون له امله ډاډه نه دی، چې د دوی رایې دې په رښتیا هم ټاکونکې وي. درېیم هم دا چې، پر امنیت او د بهرنیانو پر لاسوهنو سربېره، واکمن نظام چمتو نه دی چې ولس ازاد پرېږدي، څو په خپله خوښه نظام وټاکي؛ نو په دغسې حالت کې د یوه مشروع نظام د منځته راتګ هیله بې‌ځایه خوشباوري برېښي.»

### د راتلونکي ولسمشر مشروعیت

ښاغلی جلالي په دې نظر دی، چې "تر ولسمشر کرزي د مشروع ولسمشر راتګ ناشونی دی. د تېرو ټاکنو په پرتله اوس امنیت ډېر خراب، د امریکایانو تعهد ډېر شکمن او د طالبانو ګواښونه ډېر جدي دي؛ نو ځکه زما په اند تر اوسني نظام، ښه نظام نه شي راتللای. یوه خبره دا هم ده، چې امریکایان هم په دې پوهېږي، چې تر ولسمشر کرزي بل قوي او مشروع ولسمشر نه شي راتللای، له همدې امله یې له ټاکنو مخکې د تړون پر لاسلیک کولو ټینګار کاوه. که راتلونکی نظام تر اوسني ډېر مشروع وي، نو بیا د امریکایانو څه اړتیا ده چې پر اوسني نظام ټینګار کوي چې تړون لاسلیک کړي."

### د ټاکنو دویم پړاو ته تګ او د لاسوهنو شونتیا

د ښاغلي جلالي په وینا، "دا اوس یوه منل شوې خبره ده، چې ټاکنې به دویم پړاو ته ځي. د نوماندانو ګڼوالی به ټاکنې دویم پړاو ته بیایي. که ټولو نوماندانو ته یو برسېرن نظر وکړو، پر درېیوو ګټګوریو یې وېشلی شو: لومړی د اپوزیسیون نوماند، دویم، د حاکم نظام له خوا درول شوي نوماندان او درېیم بې‌پړي چې د حاکم ټیم کاندید ته د هغوی کوږوالی هم حس کېږي. نو زما په نظر قوي احتمال شته چې ټاکنې دویم پړاو ته ولاړې شي، هلته به بیا د حاکم ټیم او د اپوزیسیون د نوماندانو ترمنځ رقابت وي. د اپوزیسیون نوماند له همدا اوسه د بې‌ثباتۍ ګواښونه کوي؛ خو دا ګواښونه تر ډېره یو ډول فشار ښکاري، ترڅو واکمن ټیم له لاسوهنې ووېروي، کنه د تېرو ټاکنو په څېر د کومې خاصې ګډوډۍ وړاندوینه شونې نه برېښي."

خو دا بیا څرګنده ده، چې د افغانستان په اوسني وضعیت کې د رښو ټاکنو ترسره کېدل شوني نه دي؛ دلته د رښو ټاکنو د نه ترسره کېدلو یو عمده لامل د بهرنیانو پراخ حضور دی، چې د ټاکنو مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي. که له بې ځایه خوشباوریو تېر شو او واقعبین وغږېږو، نو هر هېواد خپلې ګټې په پام کې نیسي او دلته دا پوځیان هم د خپلو ګټو لپاره راغلي دي، دوی ته تر هرڅه خپلې ګټې مهمې دي.

**د افغانستان پر سوله او ثبات د دغو ټاکنو اغېز**

دا چې ایا دا ټاکنې به د افغانستان ستونزه او روانې ناخوالې د هواري په لور بوځي او که به ستونزې لاپسې زیاتې کړي؟ ښاغلی جلالي یې په اړه وایي: «په هېڅ صورت هم ستونزې د هواري لور ته نه شي بېولای؛ د دولت وسله‌والو مخالفینو چې عمدتاً طالبان دي، تازه یوه اعلامیه خپره کړې او له ولس څخه یې غوښتي، چې په ټاکنو کې ګډون ونه کړي. زما په اند دا هم باوري ده، چې راتلونکی ولسمشر به د سولې په تړاو هم تر کرزي ښه رول ونه لوبولای شي. ځکه لومړی خو به هغه له ضعیف مشروعیته برخمن وي او بل دا چې کېدای هغه به له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړي، چې د سولې د بهیر او د سولې د دروازې د تړل کېدلو په معنا یې بولم.»

ښاغلی دوکتور عبدالباقي امین هم دا ټاکنې د افغانستان د ستونزې حل نه بولي او وايي، چې دغه ټاکنې د افغانستان اصلي ستونزه چې جګړه ده، پای ته نه شي رسولای.

نوموړی زیاتوي، چې افغانستان په اوسني وخت کې دې ته اړتیا لري، چې جګړه پکې پای ته ورسول شوي او د جګړې د عواملو د له منځه وړلو هلې ځلې وشي؛ خو اوس تر ډېره داسې ښکاري، چې له ټاکنو وروسته به جګړه لاپسې زور واخلي او امنیتي حالات به لاډېر خراب شي.

## آیا امریکایان خپل پوځي مرکزونه هم په تېروتنه کې بمباروي؟



**مقدمه**

د لوګر د سیمه‌ییزو چارواکو په وینا، د دغه ولایت په څرخ ولسوالۍ کې د امریکایي ځواکونو په بمبارۍ کې د ملي اردو 22 سرتېرو ته مرګ ژوبله واوښته، چې پینځه تنه یې وژل شوي او 17 نور یې هم ټپيان شوي دي.

سیمه‌ییز چارواکي وایي، چې د ملي اردو دغه پوسته مخکې له امریکایي ځواکونو سره وه او وروسته یې بیا افغان ځواکونو ته وسپارله.

افغانستان ته د بهرنیو ځواکونو له راتګ وروسته، د ولسي وګړو د کلیو او کورونو له بمباورلو ورهاخوا، د لوګر پېښې ته ورته هم ډېرې پېښې شوې دي، چې هغوی تل دا د خپلو ځواکونو تېروتنه بللې ده. خو ایا له دومره پرمختللې ټکنالوجۍ سره داسې تېروتنه شونې ده؟ او که تېروتنه نه وي نو بیا د دغسې بریدونو موخه څه کېدای شي؟

همدا موضوع د سیاسي چارو شنونکي او د ویسا ورځپاڼې مدیر مسؤول محمد زبیر شفیقي د سیمه‌ییزو او ستراتېژیکو څېړنو مرکز د پوښتنو په ځواب کې څېړلې ده:

### تېروتنه که قصدي عمل

دا چې په لوګر کې امریکایي ځواکونو د ملي اردو داسې یوه پوسته بمبار کړه، چې تر دې مخکې د امریکایانو په واک کې وه او له دومره پرمختللې ټکنالوجۍ سره سره یوه تېروتنه بلل کېږي؛ مګر تېروتنه خپل تعریف لري او تېروتنه چې یو ځل وشي، خامخا څه لاملونه لري او د مخنیوي لپاره یې اقدام کېږي؛ خو کله چې دا تېروتنې په دوامدار ډول تکرارېږي، معنا یې دا ده چې د سمون اراده یې نشته او قصدي عمل دی.

په لوګر کې د افغان ځواکونو پر پوسته د امریکایانو د برید یوه موخه، له امریکا سره د امنیتي تړون په اړه د افغان ولسمشر وروستی دریځ هم کېدای شي؛ ځکه د حامد کرزي دا دریځ امریکایانو ته لویه خبره ده او د دوی غرور دا نه مني، چې کوم څوک دې له دوی سره مخالفت وکړي.

امریکایانو د ولسمشر کرزي له خوا د امنیتي تړون د نه لاسلیک کېدلو له امله، له یوځي پلوه هم ځینې فشارونه راوړل، له تبلیغاتي پلوه یې هم د خپلو مزدورو رسنیو له لارې فشارونه راوړل، مرستې یې بندې کړې او داسې هلې ځلې یې وکړې،

چې ګویا افغان ځواکونه له بهرنیو ځواکونو پرته څه نه شي کولای؛ چې دا برید هم د همدغسې فشارونو له لړۍ څخه یو فشار بلل کېدای شي.

پر پوځي پوستو، ولسي وګړو او د استوګنې پر سیمو بمبارۍ، د ولسي خلکو پر کورونو چاپې وهل او دې ته ورته کړنې اصلاً د امریکایانو اراده ده او قصداً دا کار کوي، ترڅو په دې توګه په ملت کې روانې ناخوالې ژوندۍ وساتي او په یو ډول دلته د دوی د پاتې کېدلو پلمه جوړه شي.

## د بهرنیانو له سپکاوي ډک چلند

په لوګر کې پر افغان ځواکونو د امریکایانو له بمبارۍ وروسته، دا ځل هغوی تشه ښښنه هم ونه غوښته او هغه یې یوازې تېروتنه وبلله، د امریکایي ځواکونو جنګي الوتکې ولې پر خپلو پوځي اډو نه ورتېروځي؟ د تېروتنې ټکی اصلاً دلته د سپکاوي په معنا دی.

امریکایانو له هماغه لومړي سره له افغانانو سره همدغسې له سپکاوي ډک چلند کړی، چې یو لامل یې هم د افغانستان هغه سیاستوال دي، چې خپله قبله یې د بهرنیانو سفارتونه او بهرني چارواکي ګرځولي دي، که د افغانانو دریځ یو شي، بهرنیان به په افغانستان کې لومړی ناروا ګام اوچت نه شي کړای او که یې اوچتوي هم، په همغه ورځ به ښښنه غواړي او پښېمانه کېږي به؛ له بده مرغه اوسمهال د ځینو افغاني تش په نامه سیاستوالو هغه ذلیلانه دریځ، چې په ډېره سپین سترګۍ د بهرنیانو په دا ډول وحشتونو سترګې پټوي، د دې لامل شوی چې بهرنیان نور هم جرئت واخلي او له افغانانو سره دا ډول چلند ته دوام ورکړي.

## د مزدورو رسنیو دوه ګونی چلند

دا چې د لوګر له پېښې یوازې څو ورځې مخکې په کونړ ولایت کې د طالبانو له خوا د افغان سرتېرو د وژنې پېښه رسنیو په پراخ ډول خپره کړه او پوره سیاسي ګټه یې ترې پورته کړه؛ خو د لوګر په پېښه ډېری رسنۍ حتی یو خبر هم نه خپروي، په داسې حال کې چې په کونړ کې د خپل دښمن له خوا وژل شوي وو او په لوګر کې د هغه چا له خوا بمبارېږي، چې د افغانستان د امنیت او د همدغو ځواکونو د ملاتړ نارې وهي.

افغانان باید اصلاً له هغو مزدورو رسنیو څخه چې د پردیو په ډالرو باندې چلېږي او د هغوی د ارزښتونو لپاره کار کوي، دا تمه ونه لري چې هغوی دې د خپلو بادارانو وحشتونه ښکاره کړي. په تېرو دیارلسو کلونو کې ولیدل شول، چې هغه تش په نامه مدني ټولنه چې په ډېر پوچ شکل د بهرنیانو په ډالرو راپورته شوې، همغه رسنۍ چې د بهرنیانو په پنډونو جوړې شوې دي، د افغانستان د ملت پر ضد خپرونې لري او په راتلونکي کې هم له هغوی دا تمه نه شي کېدای.

**امنيتي که د ناامنۍ تړون**

د امنيتي تړون حقيقت دا دی، چې زموږ درد نه شي دوا کولای او زموږ د ستونزو اصلي سرچينه همدا ده، چې نړيوالې ټولنې د افغانستان له ملت سره جفاوې او خيانتونه کړي، کومې ژمنې يې چې کړې وې، هغه يې نه دي ترسره کړې او که په راتلونکي کې دوی له افغانستان سره د ملګرتيا خبره کوي، نو بايد د افغانستان اړتياوې او ارزښتونه هم په پام کې ونيسي؛ کوم څه چې تر اوسه يې هوډ نه لري.

کله چې د هېواد نظامي ځواک هم خوندي نه وي، بيا نو له امريکا سره د تړون معنا څه ده، ولې امنيتي تړون وبلل شي. د ولسمشر کرزي وروستۍ غوښتنې هم له دې پرته بله معنا نه لري، چې که په افغانستان کې امنيت نه وي، نو د امنيتي تړون معنا څه ده؟ کله چې د افغانستان د ملت ژوند خوندي نه وي، امنيتي تړون له سره څه معنا نه لري او د هغوی د مرستو استدلال بې ارزښته دی.

له بلې خوا که امنيتي تړون وي او کنه، امريکايان اصلاً له افغانستانه د وتلو هوډ نه لري او لکه دا اوس چې ځينې امريکايي رسنۍ رپوټونه خپروي، چې که امنيتي تړون لاسليک هم نه شي امريکا د پخوانيو تړونونو له مخې په افغانستان کې پاتې کېدای شي، نو دې ته ورته ډېرې پلمې لټولای شي، چې دلته پاتې شي او يا هم د اوس په څېر چې په زور او جبر سره دلته پراته دي، همداسې به پراته وي.

خو کوم تړونونه چې امريکايان دلته د پاتې کېدلو لپاره استدلال پرې کوي، هغه لنډمهالي تړونونه وو، د افغانستان پارلمان هم رد کړي دي. کوم تړون چې افغانستان ته د امريکايانو د راتګ په لومړيو کلونو کې، د هغه وخت د بهرنيو او کورنيو چارو د وزيرانو له خوا له امريکايانو سره لاسليک شوی دی، موده يې پای ته رسېدلې ده او له لويه سره هغه ډېر ذليلانه او د غلامۍ تړون و، چې اوس هېڅ ارزښت هم نه لري.

امريکايان چې له افغانستانه د وتلو کوم ضرب الاجلونه ټاکي، موږ يې وينو چې نېټه يې رارسېږي او تېرېږي، ولسمشر کرزی هم په دې پوه دی، چې دوی له افغانستانه نه وځي؛ مګر دا چې د هغوی پر وړاندې مقاومتونه قوي شي او بالاخره په زور او شرمېدلې توګه له دې ځايه ولاړ شي. پای